


انجینر محب الرحمن « خطیبي »



د نشر نیټه : 25 جنوری 2015 م


# دیدار ته ځان تیار که

بیا سره کالی په تن که دیدار ته ځــان تیار که
خوشحاله زړه غمجن که بهار ته ځان تیار که

هر خوا تاته ګلونه له ځان ورک کـــه غمونه
روښان ځمــا چمن که ګلزار ته ځـــان تیا که

په پوزه دي پیزوان که تیکه بند په زلفان کــه
ټول شپه یاد ته اتڼ که سهار ته ځان تیار کــه

ګوره زه دستا دلدار یم ستا مینه کی بیمار یم
ځما وران زړګی ختن که دلدار ته ځان تیار که

ته ورک له ځـــان جفا که هو ماسره وفا که
غماز ته جوړ کفن که دیدار ته ځان تیار که

محب خو ستا غمخوار دی ستا د زړګی یـاردی
بیا سره کالی په تن که خپل یار ته ځان تیار که

***

محب الرحمن « خطیبي»


بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org